مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۶ / ۱۰ / ۲۳

# د بې لارو ، لارې

تل خپل ځان په حقه ګڼل او انحصار پالنه، له پیله تر دې دمه د فردي او ټولنیزې ارواپوهنې ستره معما ده. تاریخ ګواه دی چې هېڅ سرکښه انسان، ډله، مذهب، ګوند او واکمن ځان ګمراه او بې لارې نه ګڼي. کله چې یو کبرجن وګړی، ناغېړی واکمن یا سرایله نظام کوم ګام اخلي، لومړی په خپل فکري چوکاټ کې ورته اخلاقي او حقوقي توجیه تراشي؛ بیا له همدې زاویې هر مخالف د نظم ګډوډونکی او بې لارې ګڼي او د ځپلو لپاره یې متې رانغاړي. که دا مسئله له علمي او تاریخي اړخه چاڼ او غلبیل شي، لاندې څلور بنسټیز محورونه به مو تر سترګو شي:

**لومړی**؛ د واک استبدادي روحیه: د حاکمیت ژغورنې توجیه خورا خطرناکه حالت دی چې د فرعونیت بېلګه یې په سر کې راځي. قرآني نصوص د استبدادي اروا پوهنې ژور انځور وړاندې کوي. فرعون به ویل: «إِنِّي أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ - زه په رښتیا وېرېږم چې هغه (موسی) به ستاسو دین بدل کړي، یا به په دې خاوره کې فساد او فتنه رامنځته کړي». دا یوازې د یو خدایګوټي مکر نه دی، بلکې د مادي قدرت لرونکو کلاسیک منطق دی. مطلق واکمنان او استبدادي رژیمونه هر چېرې ځانونه د امنیت، دیني چترۍ او قانون ساتونکي بښیي. د هغوئ له نظره د شته وضعیت بدلون د انارشۍ، فتنې او فساد په معنا وي. له همدې امله، اصلاح غوښتونکي تل د واکمنو ډلو له خوا د ترهګر، اخلالګر، مفسد او د عامه نظم د تباه کوونکي په نوم ځپل کېږي.

**دوهم**؛ ټولنیزه دود پالنه: د مکې قریشو یو زوړپال او د قبیله اي ګټو په شاوخوا کې راځرخېدونکی ذهنیت درلود. د نوي فکر او الهي پیغام پر وړاندې د هغوئ تر ټولو قوي دلیل، دود پالنه او له تېرو نسلونو پیروي وه. دوئ باور درلود چې موږ خپل پلرونه پر سمي لار موندلي او د هغو پر قدمونو په ډاډه زړه روان یو. له همدې وجې، د حضرت محمد (ص) د سپېڅلي پیغام ردول یوازې د یوې مفکورې یا عقیدې مخالفت نه وو؛ بلکې دا د قریشو لپاره حیاتي مسئله وه. انګېرنه دا وه چې دا فکر د هغوئ قومي هویت نفي او اغېز له ګواښ سره مخ کوي. نو د خلکو په ذهنونو کې د شک پیدا کولو اسانه او ارزانه لاره دا وه چې نوی فکر سپک وښیي او د رسالت راوړونکی (نعوذ بالله) د لیوني، شاعر، جادوګر یا بې لارې په تورونو تورن کړي.

**دریم**؛ فکري او انحصاري غبرګون: په هر مذهب، ډلي او سیاسي فکر کې چې کله پیروان یوازې خپل فکر سم او مطلق حق وګڼي، نو ځان غوښتنه او فکري انحصار رامنځته کېږي. اروا پوهان وایي کله چې انسان د خپلو باورونو موافق خبرې اوري، ذهن یې ارامښت احساسوي؛ خو د مخالف فکر وړاندې کېدل د سري ذهن له سرګردانۍ او اندېښنې سره مخ کوي. نو ځکه د ذهن لومړنی دفاعي غبرګون دا وي چې د مخالفت د درک او تحلیل پر ځای، سمدستي مقابل لوری بېلارې، منحرف او ناپوه بولي ترڅو خپل پخوانی او خوښ شوی فکري چوکاټ خوندي وساتي.

**څلورم**؛ د کمیت او کیفیت کرکېچ: د اکثریت او اقلیت موازي زیانونه د حقانیت موندنې په لار کې له دوو جلا اتکاوو سره مخ دي. د کمیت پالنې آفت چې په عامه ژبه کې د اکثریت په معنا کارول کېږي، د حقیقت او اخلاقو تله او ډنډه نه ده. د بېلګې په توګه؛ په هغو محدودو عربي هېوادونو کې چې دا مهال تش په نامه ټاکنې کېږي، ګټونکی ولسمشر لږ تر لږه ۹۷ سلنه رایې اخلي، خو حقیقت بل څه وي؟ د خالق تعالی ټول استازي په پیل کې سخت ځپل شوي اقلیت وو، خو اوس ګورو چې د اته میلیارده انسانانو ۵۵٪ د دریو رسولانو پیروان دي. کله چې یو اقلیت ځان د پوهې او معرفت وارث وګڼي، د ولس ارادې او غوښتنو ته په سپکه ګوري. د برلاسی له ادرسه ادعا کوي چې عام خلک په ګټه او تاوان نه پوهېږي، نو په هرې روا او ناروا پرېکړې کې یوازې خپل ځان په حقه بولي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

زه به خپله خبره په دې ټکو کې راونغاړم چې له فکري تعصب او جمود څخه د وتلو يوه مهمه لار دا ده چې درک کړو، انساني غميزې يوازې د قانون ماتوونکو له خوا نه دي رامنځته شوي؛ بلکې ډېر کله هغو کسانو رامنځته کړي چې خپلو ناسمو کړنو ته يې اخلاقي توجيه موندلې او د حقانيت جامه يې وراغوستې ده. له دې تاريخي تجربو سره د مخامخ کېدو او د ورته غميزو د مخنيوي لپاره په کار ده چې فردي او ټولنيز شعور پر دې اصل ولاړ وي چې هېڅ فرد، ډله يا مذهبي فرقه د مطلق حقيقت د مالکيت ادعا نه شي کولای.
د حق پېژندنه او منل په دې معنا نه دي چې انسان دې يوازې د خپلو افکارو پيروي وکړي؛ بلکې متوازن قضاوت دا ايجابوي چې د مخالف لوري نظريات په عادلانه او انتقادي توګه وارزول شي او له فکري سرتمبګۍ څخه ډډه وشي.
د نورو مثبتو افکارو او رغوونکو نظرياتو بې ارزښته ګڼل، په خپله د فکري بې لارېتوب نښه ده او ګرانه ده چې دا ډول خلک د فکري بلوغ پړاو ته ورسېږي.
الله مې دې زاړه ايمان ته خير کړي!



د ليکوال نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ